امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی امادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# هفته نامه مدیریت حوادث



۷ الی ۱۲ میزان ۱۴۰۳

شماره هفتاد و ششم

## له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک کډوالو نړیوالې موسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او دډنمارک دکډوالو نړیوالې موسیسې درئیسی دسوریې هیواد اتباع دانیا الشریف ترمنځ دوی تفاهم نامې لاسلیک شوې.

له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی د ډنمارک موسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست وواېه او دهغه ترڅنګ یې زیاته کړل چې باید دټولو موسیساتو او دولتی ادارو په ګډه کار وکړو ترڅو دطبعی پیښو او غیر طبعی پیښو پر وړاندی مبارزه وکړو او پر وخت موخلګ دمرستو څخه برخمن سی.

ادامه در صفحه۲

### له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست د IOM مؤسیسې دراغلي پلاوی سره وکتل



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د کډوالو نړیوال سازمان (IOM) د خطرونو کمولو مسؤل محترم اشرف السحام او د اړیکو مسؤل محترم عبدالوارث القاسم...

ادامه در صفحه۲

### جلسه تخنیکی مشارکت و همکاری مبارزه با تغییرات اقلیمی در اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تدویر یافت



جلسه تخنیکی پروژه مشارکت و همکاری مبارزه با تغییرات اقلیمی میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، اداره ملی حفاظت از محیط زیست و موسسه REHA با اشتراک روسا و کارمندان تخنیکی...

ادامه در صفحه۳

### په بلخ ولایت کې د وچکالي له امله ۱۵۲۵ زیانمنو کورنیو ته د خوراکی مرستو د وېش لړۍ پیل شوه



د هینډشیک موسسې، د یو هوکړه لیک له مخې چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره یې لاسلیک کړی و، د بلخ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، په چمتال ولسوالۍ کې...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې او د ډنمارک کډوالو نړیوالې موسیسې  تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د ډنمارک د کډوالو نړیوالی موسسې د رئیسی د سورېې هیواد اتباع دانیا الشریف ترمنځ د ۱۴۴۶ کال د ربیع الاول په ۲۸ نېټه دوه تفاهم نامې لاسلیک شوې.

له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی د ډنمارک موسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او دهغه ترځنګ یی زیاته کړل چی باید دټولو موسیساتو او دولتی ادارو په ګډه کار وکړو ترڅو دطبعی پیښو او غیر طبعی پیښو پر وړاندی مبارزه وکړو او پر وخت موخلګ دمرستو څخه برخمن سی.

همدارنګه ترابی صاحب وویل چی باید ټول مؤسیسات خپلو مرستو ته دوام ورکړی ترڅو افغان اولس دفقر او بې وزلۍ څخه وژغورل سی.

د ډنمارک کډوالو نړیوالی موسیسې رئیسی دانیا الشریف وویل چی دنورو هیوادونو په ګډون  شاوخوا ۲۵ کاله کیږی چی یاده موسیسه په افغانستان کی هم فعالیت کوی او دکډوالو سره؛ جنګ ځپلو؛دماین پاکۍ؛او په بیړنیو حالتو کی په طبعی او غیر طبعی پیښو کی دافغانانو سره مرسته کوی.

همدارنګه یی له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې دکارونو څخه خوښی څرګنده کړل او وویل چی پر وخت یی زموږ کارونه خلاص کړی دی او زموږ ملاتړ ئی  کړی دی.

لمړی تفاهم نامه چی د ۱۴۹۳۰۱۵ ډالرو په ارزښت  په کابل، کاپیسا، پروان، بامیان، کندهار، زابل، هلمند، نیمروز فراه، بادغیس ، لغمان، او کونړ ولایتونو کی دیوکال په موده کی بیلابیلی پروژې لکه د۷۰۰ تعلیم او روغتیایی مرکزنو  دمنفجره توکو څخه پاکول او ورسته دسولرونو نصبول او ګټه ځینی اخیستل.

او دوهمه تفاهم نامه چی د ۱۸۴۴۴۱۴ ډالرو په ارزښت په   کابل، پروان، لوګر، میدان وردګ، غزنی،  کندهار، زابل، هلمند،هرات، فراه، بادغیس ،ننګرهار، کنړ، او نورستان ولایتونو کی دبیړنیو حالتو دبشر دوستانه پیاوړتیا او محلی ماین پاکۍ په برخه کی دیوه کال په موده کښی به مصرف سی.

# له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست د IOM مؤسیسې دراغلي پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په خپل کاری دفتر کې د کډوالو نړیوال سازمان (IOM) د خطرونو کمولو مسؤل محترم اشرف السحام او د اړیکو مسؤل محترم عبدالوارث القاسم سره د ۱۴۴۶ کال د ربیع الاول په ۲۹ نېټه وکتل او خبرې یې وکړې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست ترابی صاحب ووېل چې د IOM  مؤسسه د نورو ادارو ترڅنګ یوه له هغو ادارو څخه ده چې له موږ سره یې ډېره همکاری کړې ده او موږ خوښ یو چې هرې مؤسسې ته چې په هره برخه کې په هیواد کې فعالیت کوی  ډېرې اسانتیاوې برابرې کړو او د دوی کارونه ژر تر ژره ترسره کړو.

ترابی صاحب همدارنګه ووېل چې هغه سیمی دخطر سره مخ دی  د وقایوی پروژو د پلی کولو په برخه کې یادو مسؤلینو ته ټینګار وکړ او ویې ویل چې

موږ خپلې اړتیاوې او لومړیتوبونه ترتیب کړي دي او تاسو ته یې درکوو ترڅو د امکان تر حده  پروژې د همدغو لومړیتوبونو له مخې پلې کړئ.
په همدې حال کې د IOM موسسې د خطرونو د کمولو مسئول د خطر کمولو په برخه کې د خپلو پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې موږ په دوو برخو کې کار کوو، یو د استنادي او ګابیونی دیوالونه جوړول دي او همدارنګه په زیانمنو سیمو کې خلکو ته ورکشاپونه وړاندې کول دي، ترڅو هغوی وپوهوو چې په ښېړنیو حالاتو کې څنګه عمل وکړي، او د ورکشاپونو تر پای ته د رسېدو وروسته هغوی ته د لومړنیو مرستو اړین وسایل هم ورکوو.
نوموړی همدارنګه د ادارې له سرپرست څخه وغوښتل چې د دې ادارې لومړیتوبونه له یادې موسسې سره شریک کړي  ترڅو دوی په هغه سفر کې چې ژر به یې د بادغیس ولایت د سروې لپاره  سفر وکړي  خپلې پروژې د همدغو لومړیتوبونو سره سمې په پام کې ونیسي.

## جلسه تخنیکی مشارکت و همکاری مبارزه با تغییرات اقلیمی در اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تدویر یافت



جلسه تخنیکی پروژه مشارکت و همکاری مبارزه با تغییرات اقلیمی میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، اداره ملی حفاظت از محیط زیست و موسسه REHA با اشتراک روسا و کارمندان تخنیکی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، نماینده اداره ملی حفاظت از محیط زیست و مسوولین موسسه REHA تدویر یافت.
در این جلسه محترم الحاج مولوی محمد عابد نعمانی، رئیس منابع بشری اداره، روی اشارات قرآن عظیم شان و احادیث نبوی پیرامون حفاظت از محیط زیست صحبت نموده گفت: تدویر همچون برنامه ها برای بلند بردن سطح آگاهی کارمندان در زمینه پیشبرد امور بسیار مهم و ارزنده می‌باشد.
در این جلسه پیرامون انجام ارزیابی ظرفیت و نقش ادارات ذیربط در بخش تغییرات اقلیمی، ارائه آموزش های تقویت ظرفیت و افزایش آگاهی و تهیه و پلان سازگاری با تغییرات اقلیمی بحث صورت گرفت.
سپس اشتراک کننده‌گان نظریات و پیشنهادات خویش را در رابطه به موضوعات مطرح کردند.
گفتنی است که پروژه مشارکت و همکاری مبارزه با تغییرات اقلیمی یک پروژه دوساله تقویت ظرفیت، سازگاری با تغییرات اقلیمی و ارائه حمایت تخنیکی است که توسط موسسه توانمندی، محیط زیست و کمک های بشری به هماهنگی و همکاری اداره ملی حفاظت از محیط زیست و ادارات ذیربط تطبیق می‌گردد.

## په بلخ ولایت کې د وچکالۍ له امله ۱۵۲۵ زیانمنو کورنیو ته د خوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه



د هینډشیک موسسې، د یو هوکړه لیک له مخې چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره یې لاسلیک کړی و، د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، په چمتال ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله زیانمنو خلکو ته د بېړنۍ مرستو رسولو د پروژې په ترڅ کې ۱۵۲۵ کورنیو ته د خوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل کړه.
د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴ لیتره غوړي، ۴ کیلو لوبیا او نیم کیلو مالګه وېشل کېږي.

## د وچکالۍ له امله ۷۱۴ زیانمنو کورنیو په هرات ولایت کې خوراکي او غیرخوراکي مرستې ترلاسه کړې



د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت ګلران ولسوالۍ اړوند ۷۱۴ کورنیو ته چې د وچکالۍ له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د یاد ریاست مسؤلینو په شتون کې خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
د یاد ونې وړ ده چې، په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړي او ۱ تخته کمپل ووېشل شوه.

## ۱۴۰ زیانمنو کورنیو سره په کونړ ولایت کې خوراکي او غیرخوراکي مرستې ترسره شوې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۱۴۰ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د یاد ریاست مشر محترم الحاج قاري ثابت الله صدیقي، د ولایت مقام او سرې میاشتې استازو په شتون کې خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
د یادونې وړ ده چې په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي او ۴ تختې کمپلې ترلاسه کړې او د مرستو په ترلاسه کولو سره یې خوښۍ څرګنده کړه.

## ۳۳۵ زیانمنې کورنۍ په ارزګان ولایت کې له خوراکی مرستو برخه منې شوې



د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت مرکز ترینکوټ او بېلابېلو ولسوالیو اړوند 335 کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو او طوفانونو له امله یې کرنیزې ځمکې او سولرونه ویجاړ شوي و, له سروې وروسته د یاد ریاست مشر حاجی ملا عبدالله خالد په شتون کې خوراکی مرستې وویشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۵۰ کیلو غنم, ۲۵ کیلو وریجې او ۵ لیټره غوړی ترلاسه کړل.

## په پکتیا ولایت کې ۱۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشل شوې




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت ډنډی پټان ولسوالۍ اړوند ۱۰ کورنیو ته چې د وروستیو طوفانونو له امله یې کرنیزې ځمکې او باغونه ویجاړ شوي و, له سروې وروسته د یاد ریاست مشر مولوی نثار احمد نجات په شتون کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱۰۰ کیلو اوړه, ۵۰ کیلو وریجې, ۵ لیټره غوړی, ۷ کیلو بوره, 7 کیلو لوبیا, ۳ تختې کمپلې او ۱ هایجن کېټ ترلاسه کړل.

## په لغمان ولایت کې 2 زیانمنو کورنیو سره خوراکی او غیرخوراکی مرستې ترسره شوې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست، د یاد ولایت مرکز اړوند ۲ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله یې کورونه په بشپړډول ویجاړ شوي و، له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۲ باب خیمې، ۱ د پخلنځی کېټ، د البسې کېټ، ۴ تختې کمپلې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې او ۲۰ لیټره غوړی وویشل شول.

## په کونړ ولایت کې د جګړې له امله ۱۰۰ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته بېړنۍ خوراکی او غیر خوراکی مرستې وویشل شوې

د کونړ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت اړوند ۱۰۰ کورنیو ته چې د افغانستان اسلامی امارت مجاهدینو او پاکستانی پوځ ترمنځ د خاص کونړ ولسوالۍ اړوند شالی درۍ شیګا، انارګۍ، ډنډو او لړموکخ په سرحدی سیمو کې د وروستۍ جګړې له امله بېځایه شوې وې, بېړنۍ خوراکی او غیرخوراکی  مرستې وویشلې.



دغه مرستې چې یادې ولسوالۍ ته لېږدول شوې وې, د سروی په ترځ کې د کورنیو له تثبیت وروسته هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه, ۲۵ کیلو وریجې, ۵ لیټره غوړی، ۵ تختی کمپلې او همدارنګه د سرې میاشتې ریاست لخوا  یو تخته ترپال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس الحاج قاری ثابت الله صدیقی، سرې میاشتې رئیس حاجی شاه زلمی او د ولایت مقام استازی په حضور کې یادو کورنیو ته وویشل شوې.

## په زابل ولایت کې د ناچاوده ماین له امله ۴ زیانمنو کورنیو نغدی مرستې ترلاسه کړې



د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست د DRC موسسې سره په همغږی، په یاد ولایت کې د ناچاوده ماین د چاودنې له امله ۴ ټپیانو ته نغدی مرستې وویشلې.

په دې مرستو کې یاد شمېر کسانو ته په مجموع کې ۴۵۰۰۰ افغانی وویشل شوې.

## په بدخشان ولایت کې د اورلګېدنې له امله ۲۳ زیانمنو هټۍ والو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشل شوې



د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په کشم ولسوالۍ کې ۲۳ هټۍ والو ته چې د اورلګېدنې له امله زیانمن شوې و، له سروې وروسته خوراکی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.

په دې مرستو کې هر زیانمن کس ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۲ بورۍ غنم او ۲ تختې کمپلې وویشل شوې.

## ۱ میلیون، ۸۶۳ زره او ۶۰۰ افغانۍ ۲۹ سېلاب ځپلو کورنیو ته په کندهار ولایت کې د کورونو د ترمیم لپاره وویشل شوې



د اسلامیک ریلیف موسسې د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، د یاد ولایت ارغستان ولسوالۍ اړوند ۲۹ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوي و، له سروې وروسته د کورونو ترمیم لپاره ۱ میلیون، ۸۶۳ زره او ۶۰۰ افغانۍ وویشلې.

د مرستو د وېش په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته په بېلابېلې کټګورۍ کې له ۱۰۹۰۰ نه ۷۸۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې.

## ۱۲۶ زیانمنې کورنۍ په ننګرهار ولایت کې له خوراکي او غیرخوراکي مرستو برخه منې شوې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست، د یاد ولایت کوز کونړ ولسوالۍ اړوند ۱۲۶ کورنیو ته چې د وروستیو طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۷ لیتره غوړي او ۲ تختې کمپلې ترلاسه کړې.



## د ۱۱۴ کورنیو لپاره چې کورونه یې ویجاړ شوې و په بدخشان ولایت کې دایمي سرپناوې جوړې شوې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ودان موسسې سره په همکارۍ، په یمګان او راغستان ولسوالیو کې ۱۱۴ راستانه شویو کډوالو او د طبیعي پېښو له امله زیانمنو کورنیو ته بیاځل د ۲ سوه ۱۲ زره ډالرو په ارزښت په مقاومه توګه دایمي هستوګنځی جوړ کړل.

د یادونې وړ ده چې ۶۲ هستوګنځی د فیض آباد ښار په راغستان ښارګوټي او ۵۲ هستوګنځی د فیض آباد ښار د ارخۍ او قریه میان دشت په شیرمه ناحیه کې جوړ شوی، چې کِلیاني یې زیانمنو او راستانه شویو کډوالو ته وسپارل شوې.

د یاد ونې ده چې زیانمنو او کډوالو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ودان موسسې څخه قدرداني او منته وکړه.

